**بسم الله الرحمن الرحيم**

# يهودي اشغالگر ان؛ حتی د غزې له ژوو سره دښمني کوي

**خبر:**

الجزيرې د اوربند پر مهال د غزې د ژوبڼ په اړه راپور ورکړ. د فلسطينيانو کنټرول او ټولوژنه په دې معنا ده چې د سيمې د ژوو په ګډون هر ژوندی موجود تر بريد لاندې دی. د غزې په ژوبڼ کې ۹۰ سلنه ژوي له مرګ سره مخ دي؛ ځکه چې د ژوبڼ ساتونکي د يهودي دولت په امر استعفا ته اړ شول. په قفس کې يو وېرېدلی ليوه ليدل کيږي چې له نورو تلف شوو لېوانو له وقفې پرته ګردچاپېره ګرځي. يو ډېنګر اس ښودل کېږي چې د فلسطين د تلف شوو کميابو او نادرو فلسطيني ګيدړو سره دی.

**تبصره:**

وحشي ماهيت لرونکی سيکولر پانګوال سيسټم چې له اخلاقي پلوه هېڅ حد او مرز نه پيژني؛ د دې سبب شوی چې پلويان يې په خپلو ظالمو کړنو سره هڅه کوي چې د مومنانو تر واک لاندې سيمو کې هر ژوندي موجود ته زيان ورسوي. بې وزله او محتاج ژوي چې د الله سبحانه وتعالی په مخلوق کې امانت دی، له لوږې او رنځ سره مخ دي. د شرعي احکامو له مخې په جګړه کې د څارويو، ماشومانو، سپين ږيرو او ښځو په ګډون د ټولو بې ګناه وګړو ژوند خوندي وي. موږ مومنان د الله سبحانه وتعالی له وېرې همداسې کوو خو دښمنان مو داسې نه کوي؛ ماشومان، سپين ږيري، ښځې او ان څاروي مو وژني. د يهودي يرغمل شويو وروستي ازاديدل ښيي چې دوی مسلمان جنګيالي د غندنې پرځای ستايل؛ ويل يې چې ډېره کوچنۍ شکنجه يې نه ده ورکړې، ان په «دوستانه» بڼه يې هم لاس نه دی پرې ټينګ کړی. يوې يهودۍ ميرمنې په رسنيو کې يو اوږد ليک خپور کړی؛ په دغه ليک کې له فلسطينيانو مننه کوي چې د هغې له کوچنۍ لور سره ډېر مهربانه وو او هېڅ ترخه خاطره ترې نه لري. خو کوم مسلمانان چې له اسرائيلو سره يرغمل وو، ځورول شوي؛ ان کورنۍ يې وځورول شوې؛ دا د اسلام د دښمنانو کرکه ده! د جنين اوسيدونکی، ۱٦ کلن محمد نزال په نقف زندان کې څو ځلې وهل ټکول شوی و او کله چې ازاد شو، نو وليدل شول چې لاس او ګوتې يې ماتې دي. د روغتيا په برخه کې يې دومره بې غوري شوې وه چې سره صليب ته تر سپارلو وړاندې يې مات لاس نه و تړلی. هغه ويلي چې په خونه کې يې يو بندي په وهلو ټکولو مړ شو؛ پاخه عمر لرونکي بنديان وهل ټکول کېدل او پر ځمکه څملاستو ته اړ ايستل کېدل. د نزال مور وايي چې د هغه له نيول کېدو سره يې له هغه سره هر راز اړيکه پرې شوه او هېڅ خبر يې نه ترې درلود.

په وللّه چې د اسلام د عدالت ثبوت به نړۍ ته ښکاره شي او ژر به د نبوت پر منهج خلافت بيا تاسيس شي! کافرانو د غزې د صالحو خلکو په چلند کې د الله سبحانه و تعالی  د دغو نعمتونو لږ خوند وڅکه؛ بېشکه چې د غزې خلک به د خپل صبر په بدل کې خپل اجر اخلي.

«وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ» [الشعراء:۲۲۷]

ژباړه: «*او ظالمانو ته به ډېر ژر معلومه شي چې هغوی له څه ډول برخليک سره مخ کيږي.*»

اې اسلامي امته! د کفر او بديو پر وړاندې چپ مه پاتې کېږئ. د سترو اجرونو او لوړو مقامونو لپاره کار وکړئ؛ په غزه او هره بله سيمه کې خپل مظلوم ورونه او خويندې د ظالم له منګولو خلاص کړئ.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**عمرانه محمد**

**۲۰۲۳م کال د ډسمبر ۵مه**

۱۴۴۵ هـ.ق کال د جمادی الاول ۲۱مه